

امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و ارتباط عامه

# هفته نامه مدیریت حوادث

۸ الی ۱۳ جدی ۱۴۰۳

## شماره هشتاد و نهم

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د IOM سازمان سره د تخنيکي او همغږۍ غونډې مشرې وکړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدين ترابی، د IOM سازمان د اړيکو له مسؤل عبدالوارث القاسم او د هغه مل پلاوی سره د ۱۴۴۶ کال د رجب ۲ نيټه په خپل کاری دفتر کې وکتل او خبرې يې وکړې.
په دې تخنيکی غونډه کې محترم ترابی صاحب ووېل چې دا اداره له IOM سازمان سره نږدې اړيکې لرې او بايد د هغوی له پروژو او کارونو څخه خبر و اوسو. له همدې امله زه ستاسو فعاليتونه تعقيبوم، او په څو ولايتونو کې چې د دې موسسې په پروژو کې ستونزې رامنځته شوې وې، د حل په برخه کې يې ګامونه اخيستل شوی دی. نومورې زياته کړه چې زموږ...

ادامه در صفحه۲

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د اقليمی بدلونونو او له پېښو سره د مبارزې د ستراتيژيک پلان مشورتی غونډه د اړوندو سازمانونو په شتون کې ترسره کړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست، الحاج ملا نورالدين ترابی، د اقليمی بدلونونو او له پېښو سره د مبارزې د ستراتيژيک پلان په مشورتی غونډه کې چې د دې ادارې له لوری د توانمندۍ، چاپېريال ساتنې...

ادامه در صفحه۳

### د کابل ولايت په خاکجبار ولسوالی کې ۲،۹۳۵،۸۱۶ متر مربع ځمکه له ماينونو او ناچاوده توکو څخه پاکه شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ډافا ماين پاکی موسسې ترمنځ د لاسليک شوی هوکړه ليک له مخې د کابل ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست د ډافا موسسې له لارې چې د کانونو او پطروليم...

ادامه در صفحه۴

### د چاودېدونکو توکو د خطرونو د پوهاوی په اړه پنځه ورځنی ورکشاپ ترسره شو



د ماين پاکۍ د انسجام او همغږۍ رياست د يونيسف د ساحوی ولايتی دفتر د کارکوونکو لپاره د چاودېدونکو توکو د پوهاوی په اړه پنځه ورځنی ورکشاپ ترسره کړ...

ادامه در صفحه ۴

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د IOM سازمان سره د تخنیکی او همغږۍ غونډې مشرۍ وکړه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی، د IOM سازمان د اړیکو له مسؤل عبدالوارث القاسم او د هغه مل پلاوی سره د ۱۴۴۶ کال د رجب ۲ نیټه په خپل کاری دفتر کې وکتل او خبرې یې وکړې.
په دې تخنیکی غونډه کې محترم ترابی صاحب ووېل چې دا اداره له IOM سازمان سره نږدې اړیکې لری او باید د هغوی له پروژو او کارونو څخه خبر و اوسو. له همدې امله زه ستاسو فعالیتونه تعقیبوم، او په څو ولایتونو کې چې د دې موسسې په پروژو کې ستونزې رامنځته شوې وې، د حل په برخه کې یې ګامونه اخیستل شوی دی. نوموړی زیاته کړه چې زموږ انجینران په ټولو ولایتونو کې د زیانمنونکو سیمو سروې کوی او د هغې لیست به له تاسو سره شریک کړو ترڅو تاسې یې په پروژو کې شامل کړی.
په همدې حال کې، د IOM سازمان پلاوی د خپل ژمنی پروګرام راپور له غونډې سره شریک کړ او ویې ویل چې د ژمنیو مرستو پلان بشپړ شوی دی او د دې پر بنسټ، ۱۹,۷۳۷ کورنیو ته نغدی مرستې او ځینو ته د ژمی جامې ویشل شوې دی، او زیاتره وقایوی پروژې هم د بشپړېدو په حال کې دی.
همدارنګه، د دغه سازمان د اړیکو مسئول عبدالوارث القاسم ووېل چې موږ ستاسو د ادارې سره د همکارۍ لپاره خپلې هڅې کوو څکه چې له دې ادارې سره همکاری د خلکو سره مرسته ده. هغه زیاته کړه چې هڅه کوو پروژې د خلکو د غوښتنو او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سره په همکارۍ پلی کړو.
په پای کې پرېکړه وشوه چې د دواړو ادارو تخنیکی ټیمونه د تیر میلادی کال د ننګونو په اړه غونډې وکړی ترڅو په راتلونکی کال کې د شته ستونزو لپاره د حل لاره پیدا شی.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د اقليمی بدلونونو او له پېښو سره د مبارزې د ستراتيژيک پلان مشورتي غونډه د اړوندو سازمانونو په شتون کې ترسره کړه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست، الحاج ملا نورالدين ترابی، د اقليمی بدلونونو او له پېښو سره د مبارزې د ستراتيژيک پلان په مشورتي غونډه کې چې د دې ادارې له لوری د توانمندۍ، چاپېریال ساتنې او بشری مرستو موسسې (REHA) په همکارۍ د ۱۴۴۶ کال د جمادی الثانی ۲۷ نېټه ترسره شوه، ګډون او وينا وکړه. په دې غونډه کې د IFRC فدراسيون سرپرست، د رياست‌الوزرا اقتصادی معاونيت، د کانونو او پټروليم، ملی دفاع، عامې روغتيا، ماليې، کډوالو او راستنېدونکو، ټولګټو، اوبو او انرژۍ وزارتونو، سره مياشت، د کابل ښاروالۍ، د کابل پوهنتون، او همدارنګه د الفا، کوآر، CWSA، WFP، IOM، AKHA، NCA THT، OPOP، IMAP, NEPA او د IRC موسسو استازو او د دې ادارې رييسانو او کارپوهانو ګډون کړی و.

محترم ترابی صاحب په دې غونډه کې وويل چې د دې ادارې مخکينی پنځه کلن پلان بشپړ شوی دی. د همدې لپاره يوه کمېټه ټاکل شوې وه ترڅو د پېښو مديريت لپاره ستراتيژيک پلان ترتيب او چمتو کړی، چې اوس يې لومړنۍ طرحه ترتيب شوې او د همکارو ادارو سره شريکه کېږی ترڅو خپل نظرونه د دې پلان د لا غنی کولو لپاره وړاندې کړی.

نوموړی د CWSA موسسې د مخکينی پلان په ترتيب کې له همکارۍ او د REHA موسسې د اوسنی پلان په ترتيب کې له همکارۍ څخه مننه وکړه او زياته يې کړه چې دا اداره له موسسو سره ښې همکارۍ لری او هغوی ته په خوندی توګه د فعاليتونو ترسره کولو زمينه برابروی. د دې ترڅنګ ټولو ولايتی رياستونو ته لارښوونه شوې چې له هغو موسسو سره بشپړه همکاری وکړی چې د پېښو مديريت او د زيانمنو خلکو سره د مرستو په برخه کې کار کوی.

په همدې حال کې، د REHA موسسې مشر محمد یوسف حمیديار، د دې پروګرام موخه تشريح کړه او د يادې موسسې په اړه يې معلومات وړاندې کړل. هغه وويل چې په تېرو دوو کلونو کې يې د پېښو مديريت او اقليمی بدلونونو په برخه کې کار کړی دی او هغه ژمنه وکړه چې REHA موسسه د پېښو مديريت په برخه کې د همکارۍ لپاره چمتو ده.

همدارنګه، د IFRC فدراسيون سرپرست ښاغلی احمد د پېښو مديريت په برخه کې د دغه سازمان د همکارۍ په اړه خبرې وکړې او خوښی يې وښوده چې په دې غونډه کې ګډون لری. د کوآر موسسې مشر عبدالحليم حليم، د موسسو په استازيتوب خبرې وکړې او په دې برخه کې يې د همکارۍ لپاره ډاډ ورکړ.

د يادونې وړ ده چې د REHA موسسې مرستيال محترم عزت‌الله صديقی، په افغانستان کې د پېښو مديريت او اقليمی بدلونونو په اړه او د دې ادارې د پاليسۍ او پروګرامونو د پراختيا کارپوه محمد روکی عمری، د پېښو مديريت د ستراتيژيک پلان په اړه پرېزنټيشنونه وړاندې کړل.

په پای کې ګډونوال په څلورو کاری ډلو ووېشل شول، چې هره ډله يې د پېښو د کمښت، د چمتووالی نيولو، ځواب وينې او بيا رغونې او له پخوا څخه په ښه توګه بيا جوړونې په برخو کې ټاکل شوې وه. هغوی د پلان په اړه په تفصيل سره له بحث وروسته خپل نظريات غونډې ته تشريح کړل، او پرېکړه وشوه چې د دوی اغېزمن نظرونه به په ستراتيژيک پلان کې شامل شی.

## د کابل ولایت په خاکجبار ولسوالۍ کې ۲،۹۳۵،۸۱۶ متر مربع ځمکه له ماینونو او ناچاوده توکو څخه پاکه شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د ډافا ماین پاکی موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ډافا موسسې له لارې چې د کانونو او پطرولیم وزارت له لوری تمویل کېږی، د خاکجبار ولسوالۍ اړوند باټوخېل او دربند کلی او شاوخوا سیمې له ماینونو پاکې کړی او د مس عینک کان د استخراج لپاره یې ګټې اخیستنې وسپارلې.

د یادونې وړ ده چې، د ماین پاکی په دې پروژه کې په مجموع کې ۲،۹۳۵،۸۱۶ متر مربع ځمکه له ماینونو پاکه شوې او ۱۸۹۲ کړۍ بېلابېل ډول ماینونه پیدا شوی او په خوندی توګه له منځه وړل شوی.

د یادونې ده چې د ماین پاکی دا ستره پروژه د انسانانو د ژوند ژغورنې او د مس عینک کان د استخراج لپاره یو ستر ګام دی چې د دې پروژې په پلی کولو سره به د خلکو ژوند خوندی او د سیمې اقتصادی پرمختګ لامل شی.

## د چاودېدونکو توکو د خطرونو د پوهاوی په اړه پنځه ورځنی ورکشاپ ترسره شو




د ماین پاکۍ د انسجام او همغږۍ ریاست د یونیسف د ساحوی ولایتی دفتر د کارکوونکو لپاره د چاودېدونکو توکو د پوهاوی په اړه پنځه ورځنی ورکشاپ ترسره کړ.

دا پروګرام د یونیسف دفتر په مالی ملاتړ د ۱۴۰۳ کال د مرغومی میاشت له ۲مې څخه تر ۶مې نېټې پورې په پارک ستار هوټل کې ترسره شو. د دې پروګرام موخه په هغو سیمو کې چې له ګواښ سره مخ دی، د چاودېدونکو توکو د پېښو له امله د تلفاتو کموالی دی.

په پای کې ګډونوالو ته تصدیقلیکونه ورکړل شول.

## د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۶ زیانمنو کورنیو ته خوراکی مرستې ووېشلې




د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د WFP موسسې په مالي ملاتړ او د RRDPO موسسې په تخنیکي همکارۍ، د یاد ولایت بېلابېلو ولسوالیو او مرکز اړوند ۳۶ کورنیو ته چې سروې یې مخکې ترسره شوې وه او مستحقې پېژندل شوې وې، یادو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو اوړه، ۹.۱ کیلو غوړي، ۱۲.۵ کیلو دال، ۱ کیلو مالګه انرژي لرونکي چاکلېټ او WSB مواد ووېشل شول.

ورته مهال له مرستو برخه منو له یاد ریاست او موسسې څخه مننه او خوښي څرګنده کړه او د اسلامي نظام د بقا لپاره یې دعا وکړه.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لوگر برای ۵۰ خانواده آسیب‌دیده مواد خوراکی و غیرخوراکی توزیع کرد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لوگر، برای ۵۰ خانواده آسیب‌دیده در ولسوالی‌های محمدآغه و خوشی مواد خوراکی و غیر خوراکی توزیع نمود.
باید گفت که در این پروسه در حضور مسوولان به هر خانواده یک بوری آرد ۵۰ کیلویی، ۲ کیلو معاش، شش پاک بیسکویت، ۲ تخته کمپل و یک بسته کیت صحی یونیسف توزیع گردید.

## د ننگرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱،۴۰۷،۸۱۰ افغانۍ ۵۰۱ بېوزله کورنیو ته وویشلې



د ننگرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ORCD موسسې په همکارۍ او د ملک سلمان بشردوستانه مرکز په مالي ملاتړ، د یاد ولایت مرکز جلال آباد ښار او بېلابېلو ولسوالیو اړوند د طبیعي پېښو له امله ۶۵۰ زیانمنو او راستانه شویو کډوالو کورنیو ته غیرخوراکي مرستې وویشلې.
د مرستو د وېش پر مهال د یاد ریاست رییس مولوی سیف الله خالد او د یاد مرکز استازو هم شتون درلود، چې هرې کورنۍ ته د ۲۶۵ ډالرو په ارزښت د ۲۱ قلمه توکو یوه بسته چې یوه خیمه، ۵ تختې کمپلې او د پخلنځي لپاره د اړتیا وړ ټول توکي پکې شامل وو، یاد شمېر کورنیو ته وویشل شول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان برای ۳۳۲ خانواده آسیب‌دیده مواد غیر خوراکی توزیع کرد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان با حمایت مالی مرکز بشردوستانه ملک سلمان از طریق موسسه ORCD، برای ۳۳۲ خانواده که از اثر سیلاب‌ها در ولسوالی‌های بغلان مرکزی، دوشی و نواحی شهر پلخمری آسیب‌دیده بودند، بعد از سروی کمک‌های غیر خوراکی توزیع کرد.
در این پروسه با حضور نماینده‌گان ریاست آمادگی مبارزه با حوادث و مرکز بشردوستانه ملک سلمان به هر خانواده ۲۱ قلم مواد غیر خوراکی شامل؛ خمیه، کمپل، فرش پلاستیکی، سطل‌آب، بشکه‌آب و یک بسته لوازم آشپزخانه که در آن وسایل مورد نیاز آشپزخانه است، توزیع گردید.
گفتنی است که مرکز بشردوستانه ملک سلمان در هماهنگی با ریاست‌های آمادگی مبارزه با حوادث در سطح کشور برای آسیب‌دیده‌ها و خانواده‌های بی بضاعت کمک‌های بشردوستانه را توزیع نموده است.
در همین حال، دریافت کننده‌گان این مساعدت، ضمن ابراز قدردانی و تشکری از آن ریاست و مرکز بشردوستانه ملک سلمان برای مسوولین دعا خیر نمودند.

## د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي توکي ووېشل



د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، ۵۰ زیانمنو کورنیو ته د دې ولایت په برکی برک ولسوالۍ او مرکز کې خوراکي او غیر خوراکي توکي ووېشل.

د یادونې وړ ده چې په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته یوه بورۍ ۲۵ کیلویي اوړه، ۲ کیلو مّۍ، ٦ پاکټه بیسکویټ، ۲ تختې کمپلې او د یونیسف یوه بسته روغتیایي کیټ ووېشل شو.

## د غزنی ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۸ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیر خوراکي توکي ووېشل



د غزنی ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دې ولایت په خواجه عمری، ګیلان، اندړ، قره باغ ولسوالیو او مرکز کې د اور لګېدو له امله ۸ زیانمنو شوو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې.

د مرستو په دې لړۍ کې، هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو غنم، ۵۰ کیلو وریجې، ۵ لېتره غوړ، ۱ کیلو چای، ۷ کیلو بوره، ۱۲ متره موکت فرش، یوه تخته فراشوټی ترپال او یوه بسته روغتیایي کیټ ووېشل شول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان برای ۱۸۱۰ خانواده آسیب‌پذیر مبلغ ۵,۰۷۵,۲۴۰ افغانی توزیع نمود



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان با حمایت مالی مؤسسه CWSA، برای ۱۸۱۰ خانواده آسیب‌پذیر و نیازمند در مرکز آن ولایت که قبلاً سروی گردیده بودند، مساعدت نقدی توزیع کرد.
باید گفت این پروسه در حضور مسوولان به هر خانواده مبلغ ۲۸۰۴ افغانی اختصاص یافته بود که در مجموع مبلغ ۵,۰۷۵,۲۴۰ (۵ میلیونو ۷۵ هزارو ۲۴۰) افغانی برای آنان توزیع گردید.
باید گفت که این خانواده‌ها طی چهار ماه آینده نیز از این کمک‌ها مستفید خواهد شد.

## د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۳۶ زیانمنو کورنیو ته نغدې مرستې ووېشلې

د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د IRC موسسې په مالي ملاتړ، د کابل ښار په دریمه او اووهمه حوزو کې ۲۳۶ زیانمنو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د دریم قسط نغدي مرستو په ترڅ کې د هرې کورنۍ لپاره ۲۷۰۰ افغانۍ په پام کې نیول شوې وې او په مجموع کې ۶۳۷۲۰۰ (۶ سوه ۳۷ زره او ۲۰۰) افغانۍ نغدي مرستې یاد شمېر کورنیو ته ووېشل شوې.
د یادونې وړ ده چې دا مرستې د اسلامي امارت د نافذه قوانینو په چوکاټ کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د IRC موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې ترسره شوې، چې په ټولیز ډول هره کورنۍ‌به ۳۲۰ ډالر یا د هغه معادل افغانۍ په اته قسطونو کې ترلاسه کړي.
ورته مهال د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او یادې موسسې څخه مننه او خوښي څرګنده کړه او د اسلامي امارت د نظام د بقا لپاره یې دعا وکړه.



## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لوگر برای ۲۵ خانواده آسیب‌دیده مواد خوراکی و غیرخوراکی توزیع کرد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لوگر، برای ۲۵ خانواده آسیب‌دیده در ولسوالی خروار آن‌ولایت مواد خوراکی و غیر خوراکی توزیع نمود.
باید گفت که در این پروسه با حضور مسوولان به هر خانواده یک بوری برنج ۵۰ کیلویی، ۲ کیلو ماش، شش پاک بیسکویت، ۲ تخته کمپل و یک بسته صحی یونیسف توزیع گردید.

## د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۸ کډوالو کورنیو ته ژمنۍ مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د محترم مقام په لارښوونه د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یونیسیف موسسې په همکارۍ، ۲۸ کډوالو کورنیو ته له سروې وروسته ژمنۍ مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ‌کې د یاد ریاست او د موسسې د استازو په شتون کې هرې کورنۍ ته د ۱۶ قلمه توکو ژمنۍ کېټ او یو هایجن کېټ ووېشل شو.



## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث کابل برای ۲۰۰ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های غیرخوراکی توزیع کرد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل با همکاری مؤسسه درمان، برای ۲۰۰ خانواده آسیب‌دیده در این ولایت کمک‌های غیرخوراکی توزیع کرد.

این کمک‌ها بر اساس تفاهم‌نامه‌ای که قبلاً بین اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه درمان در چارچوب قوانین نافذه امارت اسلامی به امضا رسیده بود،به هر خانواده دو تخته کمپل و دو دست جاکت زمستانی برای کودکان اهدا شد.

خانواده‌های دریافت‌کننده این کمک‌ها از مؤسسه درمان و ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ابراز خرسندی کرده و خواستار ادامه چنین کمک‌ها در آینده شدند.

## د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۹۰ مستحقو کورنیو ته د غیرخوراکی توکو مرستې ووېشلې



د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ORCDG موسسې په مالي ملاتړ، ۹۰ مستحقو او اړمنو کورنیو ته له سروې وروسته د یاد ولایت په مرکز کې د غیرخوراکی توکو مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته، ۲ تختې کمپلې او یوه بسته ژمنۍ البسه د یاد ریاست رییس او د اقتصاد ریاست د مسؤلینو په شتون کې ووېشل شوې.

## د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۰۰ کورنیو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې



د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست, له پېښو سره د مبارزې ولایتی کمېسیون له پرېکړې سره سم, د سپین بولدک او میوند ولسوالیو او د مرکز اړوند د ۱۰۰ شهیدانو او معلولینو کورنیو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې له سروې وروسته د سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو اوړه, ۵۰ کیلو وریجې او ۲ ژمنۍ البسې ووېشل شوې, همدارازا ۱۰ هغو کورنیو ته چې د اورلګېدو له امله زیانمنې شوی وې, هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو اوړه, ۲۵ کیلو وریجې, ۵ لیټره غوړی, ۶ تختې کمپلې, ۵ ژمنۍ البسې, ۲ جوړه څپلکې او ۱ پلاستیکی سطل ووېشل شو.

د یادونې وړ ده چې زیانمنو او معلولینو له دې مرستو خوښی څرګنده کړه او له خیریه بنسټونو یې وغوښتل چې د ژمی په فصل کې له هغوی سره نورې مرستې هم وکړی.

## په پروان ولایت کې ۲۰۰ کورنیو ته د کورونو د گرمولو لپاره د سون توکی او د لرګیو بخاری ووېشل شوې



د المساوات خیریه بنسټ د پروان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په همغږۍ، د یاد ریاست رییس مولوی عبدالعلیم افضلی او د سالنګ ولسوال حافظ سمیع الله عمری په شتون کې ۲۰۰ مستحقو کورنیو ته ژمنی د سون توکی ووېشل.

د یاد ونې وړ ده، چې په دې مرستو کې ۱ پایه د لرګیو بخاری او ۵ سېره لرګی شامل وو چې په مستحقو کورنیو باندې ووېشل شول.

## د باد غیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۶،۷۲۷،۵۰۰ افغانۍ ۲۹۹ کورنیو ته ووېشلې



د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د IRC موسسې په مالی ملاتړ، په دره بوم ولسوالی کې د وچکالی له امله ۲۹۹ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته نغدی مرستې ووېشلې.

د یادونې وړ ده چې دا مرستې د یو هوکړه لیک له مخې چې مخکې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او یادې موسسې ترمنځ د اسلامی امارت د نافذه قوانینو په چوکاټ کې امضاء شوی و، ترسره شوې.

د یادونې ده چې د مرستو په دې لړۍ کې د هرې کورنۍ لپاره ۲۲،۵۰۰ افغانۍ ځانګړې شوې وې چې په مجموع کې ۶،۷۲۷،۵۰۰ (۶میلیونه، ۷۲۷ زره او ۵۰۰ ) افغانۍ یاد شمېر کورنیو ته ووېشل شوې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان برای ۶۰۰ خانواده آسیب‌دیده البسه زمستانی توزیع کرد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان با حمایت مالی مؤسسه AFV، برای ۶۰۰ خانواده که از اثر بارندگی ها و سیلاب‌های اخیر در ولسوالی بغلان مرکزی آسیب دیده بودند، بعد از سروی البسه زمستانی توزیع نمود.

در این پروسه به هر خانواده ۳ تخته کمپل، ۶ جوره بوت مردانه و زنانه، ۱۴ جوره جوراب طفلانه و شماری لباس های دیگر توزیع گردید.

## د سمنگان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۱۴۷ زیانمنونکو کورنیو ته د سون توکی او ژمنۍ البسې وویشلې




د یو هوکړه لیک له مخې، چې له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملی ادارې او د افغان ایډ موسسې ترمنځ مخکې لاسلیک شوی و، یادې موسسې د سمنگان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست په همغږۍ, ۱۴۷ زیانمنونکو کورنیو ته د یاد ولایت په خرم او سارباغ ولسوالیو کې د سون توکی او ژمنۍ البسې وویشلې.

په دې لړۍ کې، هرې کورنۍ ته ۱۱ قلمه ژمنۍ البسې او ۱۴۰ سېره لرگی د مسؤلینو په شتون کې وویشل شول.

د یادونې وړ ده، چې د مرستو ترلاسه کوونکو له یاد ریاست او مؤسسې څخه مننه او خوښی څرگنده کړه او هغوۍ ته یې د خیر دعا وکړه.

## د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۷۲ کورنیو ته ژمنۍ البسې وویشلې



د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست, د مزار شریف ښار په بېلابېلو ناحیو کې ۷۲ کورنیو ته ژمنۍ البسې وویشلې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لوگر برای ۲۲۵ خانواده آسیب‌دیده و بی‌بضاعت مواد خوراکی و غیرخوراکی توزیع کرد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لوگر، برای ۲۵ خانواده که از اثر حوادث طبیعی متضرر شده بودند و ۲۰۰ خانواده بی‌بضاعت در ولسوالی ارزه مواد خوراکی و غیرخوراکی توزیع نمود.

باید گفت که در این پروسه برای ۲۵ خانواده آسیب‌دیده به هر کدام ۵۰ کیلو برنج، ۲ کیلو ماش، ۶ پاکت بیسکویت، ۲ تخته کمپل و یک بسته صحی یونیسف و برای ۲۰۰ خانواده بی‌بضاعت به هر کدام یک بسته صحی یونیسف توزیع گردید.

## د غزني ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ۱۰۰ زیانمنو او د شهیدانو کورنیو سره خوراکي مرستې وکړې

د غزني ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د محترم مقام په لارښوونه، د طبعي پېښو له امله ۱۰۰ زیانمنو، اود شهیدانو او معلولینو کورنیو ته د دې ولایت په مقر ولسوالۍ کې خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې مرستو کې، د یاد ریاست سرپرست قاری محمد علم خبیب او د ولسوالۍ د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو غنم، ۵۰ کیلو وريجې ووېشل شوې.

د راپورونو له مخې، له یادې جملې څخه ۲۵ د شهیدانو او معلولینو کورنۍ، ۴۰ يې د طبعي پېښو له امله زیانمنې کورنۍ او ۳۵ نورې کورنۍ له دې مرستو څخه برخه منې شوې.



## پیام ما: نکات محافظتی برای روز های برفی و یخ زدگی

مراقب راه رفتن خود باشید.

- آرام قدم بردارید.
- قدم های کوچک بردارید.
- حواس تان به برداشتن قدم های تان باشد.
- وزن خود را روی پای پیشروی بیندازید.